د افغانستان اسلامي امارت

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د ماليې وزارت

**ګناه ښکاره کوونکي ته بخښنه نه کېږي**

**رسول الله ﷺ فرمايي:** زما د امت هر سړي ته به بخښنه وسي؛ خو خپله ګناه ښکاره کوونکي ته بخښنه نه کېږي.

(رواه مسلم)

**شخصی که گناه خود را اشکار میکند بخشیده نمی شود**

**رسول الله ﷺ می فرماید:** هر امتی من بخشیده خواهد شد، به جز شخصی که گناه خود را اشکار میکند.

(رواه مسلم)

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

يکشنبه| د جمادیالاول ۱-۱۴۴۶ال س/ د لړم ۱۳-۱۴۰۳ال ل/ د نومبر ۳-۲۰۲۴ز/څلورم کال / ۱۲۱ ګڼه/ ٤ مخیزه ۱

## سرمقاله

### د عوايدو پر زياتوالي د عامه پوهاوي اغېزې

څرنګه؛ چې د هېواد ملي بوديجه له داخلي عوايدو څخه تمويلېږي، تقريباً زياته برخه ئې ماليات تشکيلوي، چې د عوايدو لوی رياست له خوا د الکترونيکي سيستمونو سيګتاس، اي فايلنګ، (RMIS) او داسي نورو سيستمونو په ذريعه راټولېږي او د ملي بوديجې له لاري په پراختيايي پروژو، معاشاتو، عامه خدماتو، امنيت او د خلکو د هوسا ژوند له پاره په مختلفو برخو کي په مصرف رسيږي. د مالياتو د ډولونو، نورمونو، پروسو او سيستمونو په باره کي خلکو ته عامه پوهاوی ورکول او د هغوی قناعت حاصلول د عوايدو لوی رياست مسؤليت دئ، د دغه مسئوليت د سرته رسولو له پاره د عوايدو لوی رياست د هيواد ټولو وزارتونو، امارتي ادارو، امارتي شرکتونو د مالي او تدارکاتي برخو کارکوونکو، سوداګرو، صنعت کارانو، روغتيايي سکټور، ښوونيز او تحصيلي سکټور او په مرکز کي د موجودو ټولو فعاله اتحاديو ته يو ورځني سيمينارونه چمتو کړي دي، چي موخه ئې د دوی د مالياتو په اړه د پوهي لوړول دي. ياد پروګرامونه کولای سي، چي په مختلفو بڼو د هغوی په کارونو اغېز ولري او د معلوماتي سيمينارونو په جوړېدو سره د مالياتو په اړه عامه پوهاوی، شفافيت او حساب ورکول، په دولتي عوايدو کي زياتوالی، مسلکي ظرفيت لوړونه او د مالياتي ستونزو د حل لارو په برخه کي مؤثر تمامېدلای سي. د ماليې په اړه عامه پوهاوی کولای سي په هيواد کي د عادلانه اقتصادي نظام په ټينګښت، د مالياتو په راټولولو کي د روڼتيا په راوستلو او د هيواد په اقتصادي ځان بسيايني کي خورا مثبت اغېز ولري.

**درنښت**

**اداره**

# د ګمرکونو او عوايدو لويو رياستونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه



د ماليې وزارت د رهبرۍ له هدايت سره سم د ګمرکونو او عوايدو لويو رياستونو تر منځ د همغږۍ ناسته، د ګمرکونو او عوايدو معين، الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ او د عوايدو لوی رئيس حافظ مولوي شاه حسين حسيني، د يادو رياستونو د مرستيالانو او رئيسانو په ګډون د دغه معينيت د غونډو په تالار کي وسوه. په دې ناسته کي د سوداګريزو شرکتونو د پخوانيو باقياتو په راټولولو، د عوايدو له تېښتي څخه په مخنيوي او د داسي طرحو په جوړولو خبري وسوې، چي پر بنسټ ئې، د دواړو رياستونو عوايد اغېزمن نه سي. همدارنګه د دواړو رياستونو له لوري د خامو موادو راوړونکو فابريکو د چارو پر څارني او کنټرول هم بحث وسو او د چارو د لا پرمختګ په موخه اړيني سپارښتني وسوې. د ګمرکونو او عوايدو معين د دواړو رياستونو ترمنځ په اړوندو چارو کي د همغږۍ پر اهميت ټينګار وکړ. ښاغلي سعيد زياته کړه؛ چي دواړه رياستونه بايد د دې مجلسونو پايلي تعقيب او په خپلو ما تحتو کارکوونکو باندي ئې په عملي ډول پلي کړي. د يادوني وړ ده، چي ياده ناسته د ګمرکونو او عوايدو لويو رياستونو تر منځ د ګډو همکاريو د پياوړتيا په موخه ترسره سوه او په راتلونکي کي به هم ورته ناستي وسي.

## د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداره پلټونکو شرکتونو او مسلکي ادارو ته د فعاليت جوازونه ورکوي



د افغانستان د مسلکي محاسبينو ادارې د ګډ بورډ درييمه ناسته، چي د ماليې وزارت د خزاينو لوی رئيس نصرت الله محمود په مشرۍ ترسره سوه، پکښې د يو شمېر مهمو مسايلو په اړه پرېکړي وسوې. په دغه ناسته کي د افغانستان د مسلکي محاسبينو ادارې د کيفيت د تضمين او څارني کړنلاره منظوره سوه او همداراز د پلټونکو شرکتونو (External Audit Firms) او د مسلکي زده کړو ښوونيزو مرکزونو (Learning Providers) ته د فعاليت جوازونو ورکولو پرېکړه وسوه. له دې وروسته به ټولو کورني او بهرني پلټونکي شرکتونو او مسلکي ښوونيزو ادارو ته د افغانستان د مسلکي محاسبينو ادارې له لوري د فعاليت او غړيتوب معتبر جوازونه ورکول کېږي او هم به ئې د کيفيت د تضمين او څارني چاري په ټاکلې موده کي د يادي ادارې له لوري ترسره کېږي. په دغه غونډه کي همداراز پرېکړه وسوه، چي ټول هغه کورني او بهرني پلټونکي شرکتونه او ښوونيز مرکزونه، چي د (ACCA) او ورته نورو مسلکي زده کړو ترلاسه کولو ته زمينه برابروي د دې ادارې له لوري د متحد المال له تکثير وروسته ځانونه په شپږو مياشتو کي د (۱۴۰۴ هـ.ل کال د غويي مياشتي تر ۱۵ مي) نېټې پوري د افغانستان د مسلکي محاسبينو ادارې سره ثبت کړي او د فعاليت له پاره له دغې ادارې څخه جواز ترلاسه کړي. ټول هغه پلټونکي شرکتونه او ښوونيز مرکزونه، چي په ټاکليو شپږو مياشتو کي ځانونه ثبت نه کړي، خپل فعاليتونه نه سي ترسره کولای او د سرغړوني په صورت کي به ورسره قانوني چلند ترسره کېږي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د مالي معينيت اړوند د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداره (CPA) په ملي کچه د مسلکي محاسبينو د روزني، په دغه برخه کي د جواز ورکولو او د محاسبوي معيارونو د عملي کولو چاري ترسره کوي.



**د کورنۍ پلټني لوی رئيس او ورسره مل پلاوي د کابل ګمرک او د ماليه ورکوونکو د خدمتونو له رياست څخه ليدنه وکړه**

م ۲




**تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي**

م ۲




**د ملي بوديجې د ښه ترتيب او اجراء په برخه کي ترسره سوي فعاليتونه او رامنځته سوي اسانتياوي**

م ۲




**د مستوفيتونو ممتازو کارکوونکو ته تصديق پاڼي ورکړل سوې**

م ۲




**معافيت های مالياتی**

م ۳




**د ازبکستان ټرانسپورټ وزير د افغانستان ټرانسپورټ د پټلۍ ګټې بيان کړې**

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه



## د مستوفیتونو ممتازو کارکوونکو ته تصدیق پاڼې ورکړل سوې




د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم، په مستوفیتونو کې د مالیه ورکوونکو د خدمتونو (۳۸) تنو او د مالیاتي حوزو (۴۵) تنو کارکوونکو ته په اړوندو برخو کې د جوړ سوي (۲۳) ورځني روزنیز پروگرام څخه ممتازو فارغانو ته تصدیق پاڼې ورکول سوې.

په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کې د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال مولوي منصورالحق ذاکر، د بشري سرچینو ریاست د زده کړو او ظرفیت لوړوني آمر مولوي محمد نادر همایون او د روزنیز پروگرام گډونوالو گډون کړی وو.

د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال مولوي منصورالحق ذاکر له ټولو کارکوونکو څخه وغوښتل، چي خپلي چاري په پوره ایمانداری او اخلاص سره مخ ته یوسي او په اړوندو برخو کي له هیوادوالو سره نېک چلند وکړي، ښاغلي ذاکر ټینگار وکړ، چي کارکوونکي باید له ورته روزنیزو پرگرامونو څخه پوره گټه واخلي او خپل ځانونه په مسلکي زده کړو سمبال کړي؛ ترڅو په ور سپارل سویو دندو کي له ستونزو سره مخ نه سي.

د مالیې وزارت د بشری سرچینو ریاست د ظرفیت لوړوني آمر مولوي محمد نادر همایون وویل، چي اوسمهال د امارت ټول لگښتونه د خپلواکي ملي بودیجې څخه ترسره کېږي؛ نو اړینه ده، چي تاسو باید د ملي عوایدو په راټولولو کي له پوره رونتیا او رښتینولۍ څخه کار واخلئ.

ښاغلي همایون ورته ښونیز پروگرامونه د کارکوونکو د مسلکي ظرفیتونو د لوړولو له پاره گټور وبلل او زیاته ئې کړه، چي ټول مسئولین دي د مالیاتي چارو په برخه کي د هر ډول بې عدالتۍ او فساد مخنیوی وکړي.

د یادوني وړ ده، چي په دغه روزنیز پروگرام کي، یادو گډونوالو ته د مجربو ټرینرانو له لوري د (۲۳) ورځو په جریان کي د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو، مالیاتي محاسبې او له مالیاتي سیستمونو سره د بشپړي بلدتیا په موخه نظري او عملي روزنه ورکول سوه.

## د کورنۍ پلټني لوی رئیس او ورسره مل پلاوي د کابل گمرک او د مالیه ورکوونکو د خدمتونو له ریاست څخه لیدنه وکړه

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس انجنیر عبداللطیف خالد او ورسره مل پلاوي د چارو د ارزوني په موخه د کابل گمرک ریاست او مالیه ورکوونکو ته د خدمتونو وړاندي کولو ریاست له چارو څخه لیدنه وکړه.

د پلټني لوی رئیس د دغو ریاستونو د لیدني پر مهال کارکوونکو ته د پلټني د اهمیت او ارزښت په تړاو خبري وکړې او ذکر سویو ادارو ته د مخکنیو ورکړل سویو اصلاحي سپارښتنو د پلټنو د تطبیق څرنگوالی ئې هم تعقیب کړ.

ښاغلي خالد، د دغو ریاستونو له مسئولینو او کارکوونکو سره په یو شمېر رغنده موضوعاتو بحث وکړ او هره شعبه ئې جلاجلا ولیده، د دوی د کړنو او اجراآتو ارزونه ئې وکړه، غوښتني او ستونزي ئې واورېدې.

د یادو ادارو مسئولینو د ورکړلو سویو سپارښتنو د ښه عملي کولو ډاډ ورکړ او هیله ئې څرگنده کړه، چي له دغه ریاست سره به خپلي بشپړي همکاری ته د تل په څېر دوام ورکوي. ښاغلي خالد هم دوی ته د قانوني شرایطو په رڼا کي د ستونزو د حل ډاډ ورکړ.



## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د فراه، نیمروز، کندهار او هرات ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.




په نیول سویو توکو کي (۳٦،۹) ټنه مالگه، (۷۵٦۵) کیلو گرامه رُب،(۱۰۹۲) کیلو گرامه چاکلېټ، (۱۰۰۰)کیلو گرامه نباتي غوړي، (۲۱۷۰)کیلو گرامه مکروني، (۹۱۰)کیلو گرامه لوبیا، (۵۷۵)کیلو گرامه پلاستیکي کڅوړي، (۵۱۲)کیلو گرامه تینر، (۵۱۵) کیلو گرامه کارټن، (٦۰۷)کیلو گرامه هگۍ، (۳۱۸) کیلو گرامه بیسکوټ، (۲۰٦۱)کیلو گرامه رنگ، (۲۸۰)کیلو گرامه یو وار مصرف لوښي، (۱۲۵)کیلو گرامه ټوکر او (۴۰)کیلو گرامه بنگړي شامل دي.

نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي دوامداره فعالیت کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د ملي بودیجې د ښه ترتیب او اجراء په برخه کي ترسره سوي فعالیتونه او رامنځته سوي اسانتیاوي

د مالیې وزارت د ملي بودیجې لوی ریاست، چي د بودیجې د مدیریت او کنټرول مسئولیت په غاړه لري، په (۱۴۰۳) هـ.ل کال کي ئې په پرله پسې هڅو سره د کال د منځنۍ برخي بررسۍ د بودیجې سند ترتیب، طی مراحل او تکثیر کړی دئ، همدارنگه وتوانېده، چي د (۱۴۰۴) مالي کال د بودیجې د سند مسوده په اغېزمنه توگه او د پایلو پر بنسټ د هیواد د لومړیتوبونو او مالي امکاناتو اصل ته په کتو او د افغانستان اسلامي امارت د پالیسۍ او لومړیتوبونو سره سم ترتیب او طی مراحل کړي، چي د توشېح په موخه ئې د اسلامي امارت مقام ته وړاندي کړې ده.




سربېره پر دې، د عامه شتمنیو د ثبت پالیسي ئې په دوو مهمو برخو (امارتي شتمنیو او د حفظ او مراقبت او عملیاتي چارو ریفورم) کي پلې کړې او د تحلیلي کره شمېر او همدارنگه د افغانستان د (۳۴) ولایتونو اقتصادي پروفایلونو ترتیبول، چي د معارف، کرني، لوړو زده کړو، روغتیا، اوبو او انرژۍ او د ټولگټو احصائیه پکښي رانغښتي ده، راټول کړي دي.

د بودیجې لوی ریاست د ورته بستونو د له منځه وړلو او د تشکیلاتي پاړسوب د مخنیوي په موخه د خپل ریاست د تشکیل بیاکتنه ترسره کړې ده او د بودیجې جوړوني د پروسې دوهم پړاو ئې د عامي روغتیا، لوړو زده کړو، د کلیو بیارغوني او پراختیا، کرني او پوهني وزارتونو په گډون په ازمایښتي بڼه پیل کړې ده.

دغه ریاست د تعدیلاتو د اجراء کولو طرزالعمل په ترتیبولو سربېره، د تخصیصاتو د ساده کولو پروسه هم پیل او یو (۱٦) پړاویزه پروسه ئې (۹) پړاوونو ته لنډه کړې ده، چي دغه کار د پروسې د چټکتیا او د وخت له ضایع کېدو څخه د مخنیوي لامل سوی. همدارنگه د بودیجې د ثبت او اجراء برخه کي ئې نوي بدلونونه رامنځته او د بودیجوي واحدونو پراختیایي پروگرامونو د (۲۱م او ۲۲م) باب د عالي بودیجې تخصیصات (مالي پلان) ئې مالي استطاعت ته په کتو او د افغانستان اسلامي امارت له پالیسۍ او لومړیتوبونو سره سم رامنځته کړي دي.

سربېره پر دې د ملي بودیجې لوی ریاست د دفاع او پوهني په سکټورونو کې د تشکیل د زیاتوالي او همدارنگه هغوی ته د ملي بودیجې له لاري د هیواد په کچه د معاشونو د ورکړي له پاره وجوه ځانگړې کړې ده او د سترو ملي پروژو (د آقینې اندخوی رېل پټلۍ او قوش تېپې کانال) د پلي کولو او گټي اخیستني پروسه ئې پیل او هڅه ئې کړې، چي سپما او بشپړ شفافیت پلی سي؛ ترڅو له غیرضروري لگښتونو څخه مخنیوی وسي.

په پای کي، دغه ریاست د بودیجوي تعدیلاتو د چارو د ښه مدیریت او په بودیجوي تعدیلاتو کي د احکامو د صادرولو د صلاحیتونو په ډاگه کول، چي په وخت سره د اجراآتو د پروسې د اغېزمنتیا لامل گرځي ترتیب او همدارنگه د اداراتو د ملي تخنیکي(NTA) کارکوونکو چاري او د امارتي ادارو د نویو سویو ونډو پلي کول ئې په اغېزمنه توگه مدیریت کړي دي.

## تېره اوونۍ د هیواد له گمرکونو څخه (۱۲۸) ټانکره بې کیفیته تېل مسترد سوي دي

د مالیې وزارت د نفتي توکو د کیفیت او څارني ریاست، چي د ټاکل سویو معیارونو له مخي هیواد ته د وارډېدونکو نفتي توکو کیفیت معلوموي، تېره اوونۍ ئې د فراه ولایت د ابونصر فراهي، د نیمروز ولایت او د بلخ ولایت په حیرتان گمرکونو کي (۱۲۸) ټانکره وارډېدونکي بې کیفیته تېل بېرته گرځولي دي.




د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د نفتي توکو د کیفیت او څارني ریاست د ټاکل سویو معتبرو معیارونو له مخي، هیواد ته د لوړ کیفیت او معیاري نفتي توکو واردولو ته زمینه برابروي او د بې کیفیته نفتي توکو له واردولو څخه په کلکه مخنیوی کوي.

# معافیت های مالیاتی

ماستر سمیع الله (جمال)

مالیات همواره یکی از درآمدهای اصلی دولت بوده است. در دنیای مدرن هم مالیات نقش انکار نشدنی در اداره جامعه و توزیع ثروت عمومی داشته است. اما قانون‌گذاران و دولت‌ها برای تشویق کارآفرینان، کسب‌وکارها و فعالان اقتصادی برای خلق ثروت بیشتر و همچنین کمک به توسعه اقتصادی برای برخی فعالیت‌ها، معافیت راه‌های معافیت مالیاتی وضع کرده‌اند معافیت‌های مالیاتی به مواردی اطلاق می‌شود که افراد یا کسب‌وکارها از پرداخت بخشی یا تمام مالیات خود معاف می‌شوند. این معافیت‌ها با هدف تشویق به سرمایه‌گذاری، توسعه برخی صنایع یا حمایت از قشرهای خاص جامعه توسط دولت‌ها اعمال می‌شوند. برخی از انواع رایج معافیت‌های مالیاتی شامل موارد زیر هستند:

**۱. معافیت برای مناطق محروم:**

به منظور توسعه اقتصادی و تشویق سرمایه‌گذاری در مناطق کمتر توسعه‌یافته، معافیت‌های مالیاتی به کسب‌وکارها و صنایع فعال در این مناطق اعطا می‌شود. معافیت مالیاتی برای مناطق محروم یا کمتر توسعه‌یافته یکی از سیاست‌های رایج در کشورهای مختلف برای ایجاد توازن اقتصادی و توزیع عادلانه‌تر فرصت‌ها است. این معافیت‌ها به منظور ترغیب سرمایه‌گذاران برای ایجاد کسب‌وکار در مناطقی که ممکن است از نظر زیرساختی یا اقتصادی کمتر توسعه یافته باشند، ارائه می‌شود. برخی از فواید این معافیت‌ها برای مناطق محروم شامل موارد زیر است:

- ایجاد کار: با ورود سرمایه‌گذاران و راه‌اندازی کسب‌وکارها، فرصت‌های شغلی بیشتری برای ساکنان این مناطق ایجاد می‌شود.
- فزایش سطح درآمد: رونق اقتصادی در این مناطق منجر به افزایش سطح درآمد و بهبود کیفیت زندگی ساکنین می‌شود.
- بهبود زیرساخت‌ها: با جذب سرمایه‌گذاری، زیرساخت‌هایی مانند راه‌ها، آب و برق، آموزش و بهداشت نیز بهبود می‌یابد.
- جلوگیری از مهاجرت: از آنجا که معمولاً افراد به دنبال فرصت‌های شغلی و زندگی بهتر به مناطق شهری مهاجرت می‌کنند، ایجاد فرصت‌های اقتصادی در مناطق محروم می‌تواند از مهاجرت جلوگیری کند.

این سیاست‌ها اغلب شامل تخفیف یا حذف کامل مالیات بر درآمد، مالیات بر ارزش افزوده، و برخی دیگر از هزینه‌ها برای دوره‌های مشخصی می‌شوند.

**۲. معافیت‌های مالیاتی بخش‌های خاص:**

صنایع یا بخش‌هایی مانند کشاورزی، فناوری‌های نوین، انرژی‌های تجدیدپذیر و گردشگری ممکن است از معافیت‌های مالیاتی بهره‌مند شوند. معافیت‌های مالیاتی برای بخش‌های خاص از ابزارهای تشویقی مهمی هستند که دولت‌ها برای حمایت از



صنایع و بخش‌های استراتژیک یا دارای اهمیت ویژه در اقتصاد ارائه می‌دهند. این معافیت‌ها معمولاً به صنایعی تعلق می‌گیرد که نقش کلیدی در توسعه اقتصادی، پایداری محیط زیست، یا ایجاد اشتغال دارند. برخی از این بخش‌ها عبارت‌اند از کشاورزی: این بخش به دلیل تأمین امنیت غذایی و اشتغال‌زایی در بسیاری از کشورها از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است. معافیت‌های مالیاتی به کشاورزان کمک می‌کند تا هزینه‌های تولید را کاهش دهند و فعالیت‌های خود را توسعه دهند.

- فناوری‌های نوین و نوآوری: صنایعی که در زمینه فناوری‌های پیشرفته و نوآوری فعالیت می‌کنند، معمولاً به دلیل پتانسیل بالا برای ایجاد ارزش افزوده و رقابت‌پذیری جهانی، از حمایت‌های مالیاتی بهره‌مند می‌شوند.
- انرژی‌های تجدیدپذیر: به منظور مقابله با تغییرات اقلیمی و کاهش آلودگی، دولت‌ها به صنایعی که در زمینه انرژی‌های پاک مانند انرژی خورشیدی، بادی و آبی فعالیت می‌کنند، معافیت‌های مالیاتی اعطا می‌کنند.
- گردشگری: این بخش به عنوان یک منبع مهم ارزآوری و اشتغال‌زایی در بسیاری از کشورها شناخته می‌شود. دولت‌ها با ارائه معافیت‌های مالیاتی، شرکت‌ها را به توسعه زیرساخت‌های گردشگری و جذب گردشگران داخلی و خارجی تشویق می‌کنند.
- این معافیت‌ها می‌توانند به صورت کاهش مالیات، تأخیر در پرداخت مالیات، یا حتی حذف مالیات برای مدت‌زمانی مشخص باشند و هدف آن‌ها افزایش سرمایه‌گذاری و رشد پایدار در این صنایع است.

**۳. معافیت برای کارآفرینان و استارتاپ‌ها:**

برخی کشورها برای حمایت از استارتاپ‌ها و تشویق کارآفرینی، معافیت‌ها یا تخفیف‌های مالیاتی به این دسته از کسب‌وکارها ارائه می‌کنند. بسیاری از کشورها برای تقویت کارآفرینی و کمک به رشد استارتاپ‌ها، معافیت‌ها یا تخفیف‌های مالیاتی ارائه می‌کنند. این سیاست‌ها با هدف ایجاد شرایط مناسب برای رشد ایده‌های نوآورانه و کاهش موانع مالی برای استارتاپ‌ها در سال‌های اولیه فعالیتشان طراحی شده‌اند. معافیت‌های مالیاتی برای استارتاپ‌ها می‌توانند شامل موارد زیر باشند:

ادامه دارد...


# اعلانات داوطلبی

**داوطلبی**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي، چي د کابل ښاروالۍ (۵) مي ناحیې اړوند کوټه سنگي کي د نظیف مارکېټ (۹) بابه دوکانونه په جلا - جلا ډول د (۱) کال لپاره د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.

۱- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A ۳۷ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

۲- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۳۸ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

۳- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۳۹-٤۰ نمبر دوکان چي ۳٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۴- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A٤۱-٤۲ نمبر دوکان چي ۳٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۵- د نظیف مارکېټ اړوند دوهم منزل، یو باب A٤۳ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

٦- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A٤٤-٤۵ نمبر دوکان چي ۳٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۷- د نظیف مارکېټ اړوند، یو بابA٤٦-٤۷-٤۸ نمبر دوکان چي ٥٤ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۰۰۰) افغانۍ ده.

۸- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۵۱-۵۲ نمبر دوکان چي ۳٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۹- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۹۳-۹٤ نمبر دوکان چي ۳٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,۵۱۵۲۷۲-٦۹,۱۱۷٤٦

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/لړم/۰۸) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/لړم/۱۴) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/لړم/۱۵) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

**داوطلبی**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي، چي د کابل ښاروالۍ (۵) مي ناحیې اړوند کوټه سنگي کي د نظیف مارکېټ (۸) بابه دوکانونه په جلا - جلا ډول د (۱) کال لپاره د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.

۱- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A٤۹-۵۰ نمبر دوکان چي ۳٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۲- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A ۵۳-۵٤-۵۵ نمبر دوکان چي ٥٤ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۰۰۰) افغانۍ ده.

۳- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۹۲ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

۴- د نظیف مارکېټ اړوند یو باب A۸۹-۹۰-۹۱ نمبر دوکان چي ٥٤ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۰۰۰) افغانۍ ده.

۵- د نظیف مارکېټ اړوند یو باب A ۹۷ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

٦- د نظیف مارکېټ اړوند یو باب A ۹۸ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

۷- د نظیف مارکېټ اړوند پنځه بابA ۹۹-۱۰٤ نمبر غرفې چي ۸٤ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱٤۰۰۰) افغانۍ ده.

۸- د نظیف مارکېټ اړوند یو باب A۱۱۳ نمبر دوکان چي ۱۱,۱ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,۵۱۵۲۷۲-٦۹,۱۱۷٤٦

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/لړم/۰۸) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/لړم/۲۸) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/لړم/۲۹) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

**داوطلبی**

مستوفیت ولایت هرات موازی ٤,۷۸جریب زمین مع یک باب تعمیر واقع ابتدایی جاده فرهنگ عقب بلاک ها ملکیت ریاست محترم فواید عامه ولایت هرات را به اساس استعلام های دفتر رهنمای معاملات حق الاجاره ماهوار مبلغ (۲٦۵۰۷) افغانی با کوردینات Y-۳۷۹۸۲٦۰ و X-٤۲۸۲۳۲ از طریق داوطلبی و آفر گشایی مطابق به طرزالعمل قرار داد های املاک دولتی به اجاره دهد. بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم را به اعتبار از تاریخ ۸ عقرب سال ۱٤۰۳ الی ۲۸ عقرب به مدیریت عمومی املاک دولتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}

تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی: ۲۹ عقرب ۱٤۰۳ ساعت ۲ بجه بعد از ظهر.

آدرس: مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک دولتی.

شماره تماس : ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونيزه

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)








# د ازبکستان ټرانسپورټ وزير د افغانستان ټرانسپورټ د پټلۍ ګټي بيان کړې




د ازبکستان د ټرانسپورټ وزير ښاغلی الهام محکموف د اذربايجان له ټرېنډ خبري اژانس – trend news agency سره په يوې ځانګړي مرکه کي د افغانستان د ټرانسپورټ د اورګاډي پټلۍ په اړه ږغېدلی دئ. راپور د نوموړي تبصره د مرکې له لاري په دې الفاظو سره رانقل کړې ده: «د افغانستان – ټرانسپورټ دهلېز پرانېستل به د منځنۍ اسيا هيوادونو ټرانزيټي وضعيت ته وده ورکړي او د دوی دوه اړخيزي اړيکي به د پام وړ پياوړي کړي.» اُزبک وزير محکموف وايي، چي منځنۍ اسيا سمندر ته لار نه لري؛ نو ځکه د سيمي د ټرانسپورټ زېربنا پراختيا يو له مهمو کارونو څخه ده. ښاغلی الهام زياتوي، چي د افغانستان له لاري د پاکستان بندرونو ته لاسرسی د ازبکستان له پاره سمندر ته تر ټولو لنډه لار ده او پاکستان هم د دې چاري په تړاو لېوالتيا لري. نوموړي په دې ځانګړي مرکه کي دا خبره هم ور علاوه کړې ده، چي وايي منځنۍ اسيا طبيعي زېرمي لري او صادروي ئې؛ نو په دې برخه کي به د افغانستان ټرانسپورټ پټلۍ يوه مهمه وسيله وي، چي د سيمي ملکونه به وکولای سي په اغېزمنه توګه له نړيوال اقتصاد سره يوځای سي. الهام محکموف د افغانستان ټرانسپورټي دهلېز ارزښت په خپله خوله په دې ټکو بيانوي: "په ټوليز ډول د افغانستان ټرانسپورټي دهلېز د منځنۍ او سوېل ختيځي اسيا د اورګاډي/ رېل ګاډي د زېربنا د نښلون فرصت برابروي، چي د دواړو مادي او فرهنګي ارزښتونو د تبادلې له پاره نوي لاري پرانيزي." راپور کاږي، چي د افغانستان ټرانسپورټ د اورګاډي پټلۍ پروژه به درې هيوادونه؛ لکه: ازبکستان، افغانستان او پاکستان سره وصل کړي. په متن کي، خو په ټوليز ډول د افغانستان د ټرانسپورټ د پټلۍ ارزښت بيان سوی دئ؛ لاکن د دې تګلوري سر حتی اروپايي ټرانسپورټي شبکو ته لا هم رسېږي او وايي دا پټلۍ به د اروپا د ټرانسپورټ شبکې په جوړولو کي مهم رول و لوبوي، يعني د منځنۍ اسيا هيوادونه به د هند سمندري بندر ته لاسرسی پيدا کړي. په راپور کي د کم وخت او د لګښت د کمښت په باب دا توري راغلي دي: «د رېل ګاډي پټلۍ به د توکو د لېږد وخت له (۳۵) څخه (۵) ورځو ته راکښته کړي او د توکو/ مالونو د تحويلي لګښت به بيا ٪(٤۰)کم سي.» ټرېنډ خبري اژانس د راپور په وروستۍ برخه کي زياتوي؛ تمه ده، چي دا پروژه د (۲۰۲۷)ز تر پايه بشپړه سي.

> ”
>
> د ترانس - افغان دهلېز پرانېستل به د منځنۍ اسيا هيوادونو ټرانزيټي وضعيت ته وده ور کړي او د دوی دوه اړخيزي اړيکي به د پام وړ پياوړي کړي.
>
> دا ټرانسپورټي دهلېز د منځنۍ او سوېل ختيځي اسيا د اورګاډي/ رېل ګاډي د زېربنا د نښلون فرصت برابروي.
>
> د اورګاډي/ رېل ګاډي دا پټلۍ به د توکو د تحويل وخت له (35) څخه (5) ورځو ته راکښته کړي او د توکو يا مالونو د تحويلي لګښت به بيا ٪(40) کم سي.
>
> تمه ده، چي دا پروژه د (2027)ز تر پايه بشپړه سي.
>
> “

# General Directorate of Customs Nets Smugglers, Halts Scores of Contrabands in 4 Provinces




Mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs of MoF seized scores of contrabands during last week in different areas of Kandahar, Nimroz, Farah and Herat provinces, which the smugglers wanted to bring confidentially to Afghanistan. Among the seized illicit are 36.9 tons of salt, 7,565kg of tomato paste, 1,092kg of chocolate, 1,000kg of vegetable oil, 2,170kg of macaroni, 910kg of beans, 575kg of plastic bags, 512kg of thinner, 515kg of cartons, 607kg of eggs, 318kg of biscuits, 2,061kg of paint, 280kg of disposable utensils, 125kg of fabric and 40kg of bangles. The contrabands and accused persons have been handed over to the relevant customs for further proceedings. Notably, the mobile surveillance staff of MoF constantly works throughout Afghanistan and does not allow anyone to import or export contrabands.

## د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټيلفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱